مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سميع الدين افغاني

۲۰۲/۰۴/۱۰

# د کورونا ويرس

د کورونا ويرس خپور شوی په جهان دی
ټول عالم ورته حيران دی – حيران

هرې خوا سلهاو انسانان مري
که څوک غريب دی يا که خان مري

پروای نشته د بل دين که مسلمان دی
ټول عالم ورته حيران دی – حيران

علاج يې نشته افريقا کې
نه په يورپ نه امريکا کې

چانس د هغو دی چې په کور کې بنديوان دی
ټول عالم ورته حيران دی – حيران

دا نه کوم ټوکې مسخرې دي
دې کې د مرګ او ژوند کيسې دي

بې پروايي کې مبتلا پرې هر انسان دی
ټول عالم ورته حيران دی – حيران

نه وخت د مرې او ژوندې دی
نه د روزګار او غريبې دی

کمک يوبل ته طريقت د مسلمان دی
ټول عالم ورته حيران دی – حيران

افغاني سولې کې ژوندون دی
جنګ نابودي ده جنګ جنون دی

والصلح خير په نامه امر د قران دی
ټول عالم ورته حيران دی - حيران

-------------------------

شاعر : سميع الدين افغاني
۱۰ - ۴ - ۲۰۲۰
م ۰ کال



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ